د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت
د مدني حقونو دفتر

د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت
د مدني حقونو څانګه

# ددا ډاډمن کول چې انګلیسي ژبه زده کونکي په ښه او مساوي توګه د ښوونې او روزنې په برنامو کې برخه اخیستلې شي

د انګلیسی د زده کړې (EL) محصلین د ټول دولتي ښوونځي د زده کوونکیو نهمه سلنه جوړوي او دغه محصلین له هر ځلورو دولتي ښوونځیو له جملې څخه نږدې په دریو کې داخل دي. د مدني حقونو د قانون 1964 د VI سرلیک (سرلیک VI) او د مساوي زده کړې د فرصتونو د قانون 1974 (EEOA) له مخې به دولتي ښوونځي دا ډاډه کوي چې د EL زده کوونکي په ښه او مساوي توګه د زده کړې په برنامو کې برخه اخلي.

د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت (ED) او د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت (DOJ) د زده کړې ایالتي موسسو (SEAs)، د دولتي ښوونځي ډسټرکونو او د خپل حقوقي مسؤلیت لرلو دولتي ښوونځیو ته د یادونې لپاره یو ګډ لارښوونه صادره کړې ده څو دا ډاډه کړي چې EL زده کوونکي په ښه او مساوي توګه د زده کړې په برنامو کې برخه اخیستلی شي.

دا حقیقت پاڼه د شریکي لارښوونې بیاکتنه وړاندې کوي، خو په دې لارښوونه کې دا هڅه نه کوي چې په پراخه توګه ټولې ستونزې هوارې کړي. سربېره پردې، په داسې حال کې چې دا حقیقت پاڼه د ښوونځي د ناحیو په مسؤلیتونو تمرکز کوي، دا لارښوونه دا څرګندوي چې SEA هم د EL زده کوونکو او د انګلیسی د محدود مهارت لرونکي (LEP) والدېنو په اړه قانوني مسؤلیتونه لري. دا لارښوونه په دې ادرس موجود ده:
https://www2.ed.gov/about/offices/list/ocr/ellresources.html د EL ټول احتمالي زده کوونکي پیژندل او د هغوی ارزونه کول

- د ښوونځي ناحیې باید د EL د احتمالي زده کوونکو په صحیح توګه او مناسب وخت د تعین کولو کړنلارې ولري. د ښوونځي زیاتره ناحیې د زده کوونکي د ژبې د مخینې په اړه د معلوماتو راټولولو لپاره د داخلې پر مهال د کورنی ژبې د سروی څخه استفاده کوي او د هغه زده کوونکو تعین کوي چې مورنی یا کورنی ژبه یې انګلیسي نه بلکې بله ژبه وي.
- د ښوونځي ناحیې بیا باید د هغه باوري او مستند ارزونې له لارې تعین وکړي کومه چې د ویلو، اوریدلو، لوستلو او لیکلو په برخه کې د انګلیسی ژبې د پوهې تعین کوي چې آیا د EL احتمالي زده کوونکي یقیناً EL دي او کنه.

## *د EL زده کوونکو ته د ژبې مرسته وړاندې کول*

- د ښوونځي ناحیې به د ژبې د مناسب مرستي خدمات وړاندې کوي څو د EL زده کوونکي وکولای شي چې په انګلیسی کې مهارت ترلاسه کړي او په مناسب وخت کې دننه په مساوي توګه د لارښوونې په معیاري پروګرام کې ګډون وکړي.
- د دې مسؤلیت د پوره کولو لپاره د ښوونځي ناحیې د هغه برنامو څخه انتخاب کولای شي کومې چې د EL زده کوونکو لپاره مطرح کړی شوې دي، خو په دې شرط چې دغه برنامه په تعلیمي توګه په تیوري او عملي توګه مناسب وي.

## *د EL برنامې کارکوونکي او مرسته*

- د ښوونځي ناحیې به په ښه توګه د EL برنامې د عملي کولو لپاره مناسبې سرچینې وړاندې کوي، چې په کې اعلی لیاقت لرونکي ښوونکي، د مرستې کارکوونکي او د ښوونې مناسب مواد شامل دي.
- د ښوونځي ناحیې باید د EL لیاقت لرونکي ښوونکي، کارکوونکي او رییسان ولري څو په ښه توګه خپل د EL برنامه عملي کوي او که اړتیا وي نو اضافي روزنه وړاندې کوي.

## *ټولو نصابي او غیر نصابي برنامو ته په ښه توګه لاسرسی وړاندې کول*

- د ښوونځي ناحیې به دا ډاډه کوي چې د EL زده کوونکي د خپل ټولګي د کچې نصاب ته لاسرسی ولري څو د ترفیع او فراغت اړتیاوې پوره کولی شي.
- د ښوونځي ناحیې به د EL زده کوونکو ته مساوي فرصت وړاندې کوي چې په ټولو برنامو کې ګډون وکړي، چې په دې کې پري کنډرګارټن، مېګنیټ، ګیفټیډ اینډ ټیلینټیډ، مسلکي او تخنیکي زده کړه، هنرونه او د لوبو برنامې، پرمختللي داخله (AP) او د داخلي بکلوریا کورسونه، کلوبونه او د شهرت ټولنې شاملې دي.

## *د EL زده کوونکو د غیرضروري جلا کولو څخه ډډه کول*

- د ښوونځي ناحیې به معمولاً د ملي مبدا یا EL وضعیت پر اساس زده کوونکي نه جلا کوي. که څه هم د EL ځینې برنامې ښایي داسې مطرح شوې وي چې له مخې یې دا اړتیا وي چې د EL زده کوونکي د ورځې په کوم محدود وخت یا ټاکلي وخت کې جلا لاربښوونه ترلاسه کړي، خو د ښوونځي د ناحیو او ایالتونو څخه دا هیله لرل کیږي چې خپل ټاکل شوي برنامې داسې ترسره کوئ چې لږ تر لږه جلاتوب ته په کې اړتیا راشي او د برنامې د زده کړې ټاکل شوي اهداف په کې ترسره کړل شي.

## *د ځانګړې زده کړې او غبرګ خدماتو د وړاندې کولو لپاره د EL د زده کوونکو ارزونه کول*

- د ښوونځي ناحیې به د EL معیوبیت لرونکي زده کوونکو ته د ژبې هغه مرسته او د معیوبیت اړوند خدمات *دواړه* وړاندې کوي، د کومو چې دوی د فدرالي قانون له مخې مستحق دي.
- د ښوونځي ناحیې به دا لازمي ډاډه کوي چې د EL هغه زده کوونکي چې ښایي معیوبیت لري، د نورو هغه ټولو زده کوونکو په څیر چې ښایي معیوبیت لري او د معیوبیت لرونکي کسانو د قانون (IDEA) یا د 1973 د بیا رغونې د قانون د ماده 54 له مخې خدماتو ته اړتیا لري، د هغوی موقعیت معلوم کړل شي، تعین یې وشي او د ځانګړې پروګرام او معیوبیت اړوند خدماتو لپاره په مناسب وخت کې یې ارزونه وکړل شي.
- د دې خبرې لپاره چې د EL د زده کوونکو د معیوبیت لرونکي زده کوونکو په حیث په نامناسب توګه تعین ونه کړل شي ځکه چې هغوی د انګلیسي محدود مهارت لري، د ښوونځي ناحیې باید د زده کوونکي د اړتیاو او ژبې د مهارتونو پر اساس په مناسبه ژبه ارزونه ترسره کړي.

## د ځانګړې زده کړې او غبرګ خدماتو د وړاندې کولو لپاره د EL د زده کوونکو ارزونه کول (جاري.)

- د دې ډاډه کولو لپاره چې د ځانګړې زده کړې د وړاندې کولو یا د معیوبیت اړوند خدماتو لپاره انفرادي پلان د EL د معیوبیت لرونکي زده کوونکي د د ژبې اړوند اړتیاوې پوره کوي، دا مهمه ده چې د پلان د مطرح کولو په ډله کې هغه ګډونوال شامل وي کوم چې د زده کوونکي د ژبې د اړتیاو په اړه پوهه لري.

## د هغه زده کوونکو اړتیاوې پوره کول چې د EL د برنامو یا ځانګړې خدماتو څخه ووځي

- د ښوونځي ناحیې دا مسؤلیت لري چې د EL ټولو زده کوونکو ته خدمت وړاندې کړي. خو، والدین کولای شي چې خپل ماشومان د ښوونځي د ناحیې د EL برنامې څخه وباسي یا په EL برنامه کې یې د EL د کوم ځانګړي خدماتو څخه وباسي.
- د ښوونځي ناحیې دا وړاندیز نه شي کولای چې والدین د کوم علت له کبله هغوی وباسي. د ښوونځي ناحیې به والدینو ته د هغوی د ماشوم /ماشومې د حقونو، د EL لخوا د هغوی ماشوم/ماشومې ته د EL د مختلفو وړاندې کېدونکي خدماتو او د هغې د ګټو په اړه په هغه ژبه کې لارښوونه وړاندې کوي په کومه چې هغوی پوهیږي. د ښوونځي ناحیې به په مناسب ډول دا ثبتوي چې والدینو په داوطلبانه توګه د خپل ماشوم/ماشومې د ویستلو پریکړه د معلوماتو وروسته کړې.
- د ښوونځي ناحیه به د EL د زده کوونکو د وتللو لپاره اقدامات کوي داسې چې د زده کړې برنامو ته لاسرسی لري، د هغوی د پرمختګ څارنه به کوي او که چیرې ماشوم/ماشومه د مشکل سره مخ کیږي، نو د EL د خدماتو وړاندیز به ورته بیا کوي.

## د EL برنامو او خدماتو څخه د EL د زده کوونکو څارنه کول او د هغوی ویستل

- د ښوونځي ناحیې به د EL د ټولو زده کوونکو د پرمختګ څارنه کوي څو دا ډاډه کوي چې د هغوی د انګلیسې په مهارت کې ښه والی راځي او په مناسب وخت کې د محتویاتو زده کړه کوي. ناحیې به په لاسي توګه د انګلیسې ژبې د مهارت (ELP) معتبره او باوري ارزونه د لوست، لیک، اوریدنې او خبرو په برخه کې ترسره کوي، چې دغه ارزونه به د ایالتي ELP معیارونو سره سمون خوري.
- د ښوونځي ناحیې به د EL برنامو، خدماتو یا وضعیت څخه د EL زده کوونکی/زده کوونکي تر هغه وخته پورې نه وباسي، ترڅو هغه د ELP په ارزونه کې د خبرو، اوریدنې، لیکنې او لیکلو په برخه کې د انګلیسي مهارت څرګند کړي.
- د ښوونځي ناحیې به د EL د مخکینې زده کوونکو د تعلیمي پرمختګ څارنه لږ تر لږه تر دوو کالو پورې کوي څو دا ډاډه کړي چې زده کوونکي د وخت نه مخکې له یادې برنامې څخه نه دي ویستل شوي، او که د EL برنامې له کبله څه تعلیمي نیمګړتیاوې رامنځته شوي، نو هغه حل کړل شوي دي او هغوی په ښه توګه د ناحیې د زده کړې په برنامو کې د هغه زده کوونکو په پرتله ګډون کوي چې هیڅکله د EL زده کوونکي نه وي پاتې شوي (هیڅکله د EL ملګري نه وي پاتې شوي).

## د ناحیې د EL برنامې د اغیزمنتوب ارزونه کول

- د EL برنامې به په ښه توګه ارزول کیږي څو د EL زده کوونکي وکولای شي چې د انګلیسي پوهه ترلاسه کړي او د هغه زده کوونکو په نسبت چې هیڅکله یې په EL کې ملګري نه وي پاتې شوي، د معیاري زده کړې په پروګرام کې په ښه توګه ګډون وکړي.
- د ښوونځي ناحیې به د وخت په تیریدلو سره په برنامه کې د EL زده کوونکو او د برنامې د وتونکو کسانو د تعلیمي اجرا ارزونه او پرتله د هغوی د هغه ملګرو سره کوي چې هیڅکله یې په EL کې ګډون نه وکړی.
- د ښوونځي ناحیې به د وخت په تیریدلو سره د EL برنامو ارزونه کوي او په دې کې به له دقیقې ډېټا څخه استفاده کوي څو د اوسني او مخکیني EL زده کوونکو په پراخه او باوري توګه د تعلیمي اجرا ارزونه وکړي او کله چې اړتیا وي په مناسب وخت په دغه برنامو کې ترمیم وکړي.

## د محدود انګلیسي مهارت لرونکي والدینو سره معني خیزه مخابره ډاډه کول

- د ښوونځي ناحیې به دا لازمي ډاډه کوي چې د LEP والدینو سره په هغه ژبه کې مخابره وکړي په کومه چې هغوی پوهیږي، لکه هغوی ته ترجمه شوي مواد وړاندې کړي یا د ترجمان مرسته ورته وړاندې کړي، او په مناسب توګه به LEP والدین د برنامې، خدمت یا فعالیت د هغه معلوماتو څخه خبروي چې د غیر LEP والدینو پاملرنې ته اړتیا لري.
- د LEP والدینو او سرپرستانو د مدني حقونو او د EL زده کوونکو د والدینو لپاره د ناحیې د ځانګړي مسؤلیتونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ [https://www2.ed.gov/about/offices/list/ocr/docs/dcl-factsheet-el-students-201501-pashto.pdf](https://www2.ed.gov/about/offices/list/ocr/docs/dcl-factsheet-el-students-201501-pashto.pdf).

* * * * *

## که تاسو پوښتنې لرئ، اضافي معلوماتو ته اړتیا لرئ، یا فکر کوئ چې ښوونځی ستاسو د فدرالي حقونو څخه سرغړونه کوي:

- تاسو د مدني حقونو لپاره د ED د دفتر (OCR) ویب پاڼې ته په www.ed.gov/ocr مراجعه کولی شئ یا د OCR سره په (800) 421-3481 (TDD: 800-877-8339) یا په ocr@ed.gov اړیکه نیولی شئ. د شکایت درج کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره www.ed.gov/ocr/complaintintro.html. ته مراجعه وکړئ.
- تاسو د DOJ د مدني حقونو څانګې، د زده کړې د فرصتونو څانګې ته په دې ویب پاڼه مراجعه کولای شئ www.justice.gov/crt/about/edu/ یا د DOJ سره په 292-3804 (877) یا په دې ادرس education@usdoj.gov اړیکه ونیسئ. د شکایت درج کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره www.justice.gov/crt/complaint/#three ته مراجعه وکړئ.
- د انګلیسي د زده کړې د محصلینو او د انګلیسي محدوده وړتیا لرونکي والدینو په اړه د ښوونځي د ناحیو د معلوماتو لپاره، د OCR او DOJ اضافي لارښوونه دلته موجود ده: https://www2.ed.gov/about/offices/list/ocr/ellresources.html.